## مطبوعاتي اعلامیه

## د مصیبت په وخت کې باید پر الله سبحانه وتعالی تکیه وکړو، د هغه رحمت وغواړو او الله سبحانه وتعالی ته تسلیم شو

(ژباړه)

بنګلدېش هم د کرونا ویروس له خپرېدلو خوندي نه دي، څو کسان په دغه ناروغۍ اخته شوي او د خلکو ورځنی ژوند یې له ستونزو او اندېښنو څخه ډک کړی دی. روغتیایي کارپوهان او باخبره ښاریان د دولت پر بې پروایۍ سخت په غوصه دي، ځکه دوی ویني چې دولت د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره هیڅ اړین ګامونه نه دي پورته کړي. کله چې دغه ویروس د ۲۰۱۹ م کال د دسمبر په میاشت د لومړي ځل لپاره د چین په ووهان ښار کې و پېژندل شو نو دولت له دوه میاشتو ډېر وخت درلود چې د ویروس د خپرېدلو د مخنیوي لپاره تدابیر ونیسي، خو دغه فاسد دولت ددې برعکس د مجیب د کلیزې پر لمانځلو بوخت وو. دا په داسې حال کې ده چې خلک د کرونا له ساري (چټکې خپرېدونکې) ناروغۍ سره مخ دي.کم روغتیایي امکانات، د روغتیایي کارکوونکو د محافظوي وسایلو کمښت، د ازمایښتي کېټونو نه شتون، او د تماس نیولو او راپور ورکولو د غیر اغېزمن میکانېزم د شتون سره سره دولت اوس هم خپل ځان په سیاسي لوبو کې بوخت ساتلی. دولت ددې په خاطر چې خپله ماته د خلکو له سترګو څخه پټه وساتي نو پر دغه ویروس د اخته شوو او وژل شوو کسانو د تعداد د پټ ساتلو په موخه له زور څخه کار اخلي. د ویروس د خپرېدو د مخنیوي په خاطر د دولت کمزورۍ او بې پروایۍ ته پرکتلو سره حزب التحریر-ولایه بنګلدېش خپل خلک لاندې مخلصانه لارښوونو او مشورو ته متوجې کوي.

**اول:** دا ډول ستونزمن حالات باید موږ له ډېرې وېرې او وحشت سره مخ نه کړي، بلکې باید ایمان ولرو چې د دغې ناروغۍ خپرېدل د الله سبحانه وتعالی له لوري دي، دا پر موږ باندې د الله سبحانه وتعالی یو امتحان دی چې پر وړاندې یې باید صبر غوره کړو. الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړو، لکه څنګه چې رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**﴿عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ﴾**

**ژباړه:** *د مومن چاره څومره عجیبه ده، ټولې چارې یې ورته خیر دي او دا د بل چا لپاره نه دي؛ مګر د مومن لپاره، که هغه ته نعمت ورسېږي شکر ادا کوي او دغه شکر د هغه لپاره خیر دي او که مصیبت ورته ورسېږي، نو صبر کوي او دا صبر هم ورته خیر دی. (مسلم)*

د دغې ویروس خپرېدل د غرب په ګډون د نړۍ ټولو انسانانو ته دا وریادوي چې موږ د دومره اقتصادي، روغتیایي، او تکنالوژیکي پرمختګ سره سره د الله سبحانه وتعالی پروړاندې څومره کمزوري یو، ځکه خو باید د الله سبحانه وتعالی لوري ته نیژدې شو او د خپلو ناوړه اعمالو په خاطر له هغه بخښنه وغواړو او ځانونه د هغې قضا ته تسلیم کړو.

**دویم:** موږ باید د کفارو او مشرکینو په څېر ونه اوسو او له احتکاره ځان وساتو تر څو د لومړنیو غذایي توکو له کمښت سره مخ نه شو. یوازې د خپل ځان په غم کې باید ونه اوسو، بلکې نورو خلکو ته باید لاس ورکړو او د دوی پر وړاندې خپل مسولیت ادا کړو. دا باید هېر نه کړو چې موږ مسلمانان یو، لکه څرنګه چې الله سبحانه وتعالی موږ د بشریت له منځه بهترین امت بللي یو:

**﴿وَ كَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾**

[بقره: ۱٤۳]

**ژباړه:** *او په همدې ډول موږ یو امت وسط (غوره امت) ګرځولي یاست چې تاسو پر خلکو شاهدان او رسول الله صلی علیه وسلم پر تاسو شاهد اوسي. [بقره:۱۴۳ ]*

**دریم:** موږ باید پر الله سبحانه وتعالی باور وکړو او صبر ولرو؛ نه دا چې د وېرې او وحشت لار غوره کړو. موږ باید دا هېر نه کړو چې اجل، مرګ او رزق د الله سبحانه وتعالی له لوري دي، لکه چې فرمایي:

**﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا﴾**

[آل‌عمران: ١٤٥]

**ژباړه:** *هېڅ ساکښ د الله سبحانه وتعالی د حکم څخه پرته مړ کېدای نه شي او د مرګ نېټه لیکل شوې ده. [عمران:۱۴۵ ]*

**﴿وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾**

[هود: ١١]

**ژباړه:** *په ځمکه کې هېڅ داسې خوځنده ساکښ نه شته، چې د هغه روزي د الله سبحانه وتعالی پر غاړه نه وي او د هغه په اړه ونه پوهېږي چې هغه چېرې اوسېږي او چېرې لېږدول کېږي هرڅه په یو معلوم دفتر «لوح محفوظ» کې ثبت شوي دي. [هود: ٦ ]*

همدارنگه الله سبحانه‌وتعالی فرمايي:

**﴿قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾**

**ژباړه:** *دوی ته ووایه چې موږ ته هېڅکله څه ضرر یا نښېګڼه نه رسېږي. مګر هغه چې الله سبحانه وتعالی راته لیکلي دي، همغه الله سبحانه وتعالی زموږ مولا دی او مومنان باید په همغه توکل وکړي. [توبه:۵۱]*

**﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾**

**ژباړه:** *بېشکه ، الله سبحانه وتعالی پخپله روزي ورکوونکی دی، د ډېر قوت خاوند او زورور دی. [ذریات:۵۸]*

**څلورم:** د راپورونو له مخې د بنګلدېش په ځینو سیمو کې کرونا خپره شوې ده، موږ باید د دغو سیمو څخه د لېدلو په وخت کې پوره احتیاط وکړو او که په یوه سیمه کې د ویروس خپرېدل پیل شي نو د یو شرعي مکلفیت پر توګه باید هغو سیمو ته لاړ نه شو، لکه څنګه چې په بخاري کې راغلي دي.

رسول الله صلی علیه وسلم فرمايي:

**«الطَّاعُونُ رِجْزٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ»**

**ژباړه:** *طاعون هغه رنځ یا عذاب دی چې پر بني اسرایلو او له تاسو مخکې کسانو باندې نازلېده، نو که خبر شوئ چې په کومه سیمه کې طاعون لګېدلی هغې ته مه داخلېږئ او که چېرته ستاسو په سیمه کې ولګېد نو له هغه ځایه مه تښتئ.*

او الله سبحانه وتعالی همدارنګه فرمایلي دي:

**﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾**

**ژباړه:** *په وچه او لمده کې د خلکو د لاسونو په عملونو سره فساد ښکاره شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی پر دوی باندې د هغو عملونو د سزا خوند څکې چې دوی ترسره کړي دي، ښایي چې دوی الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړي. [روم:۴۱]*

له هغې ورځې وروسته چې موږ خپل سپر «خلافت» له لاسه ورکړ نو د جابرو بشري نظامونو تر ظلم لاندې راغلي یو او د الله سبحانه وتعالی رحمت مو له لاسه ورکړی. د دغو بشري نظامونو تر چتر لاندې نه یوازې داچې د سختو شکنجو سره مخ یو بلکې ددې ترڅنګ د دردونکو مصیبتونو لړۍ یو پر بل پسې زموږ شا نیولې ده. په همدې خاطر باید موږ د نبوت پر منهج د اسلامي خلافت د تاسیس په موخه خپلې ټولې هڅې ترسره کړو ترڅو په ځمکه کې پر امت باندې د درحمت نیالګي وکرو. رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«السُّلْطَانُ ظِلُّ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ»**

ژباړه: پاچا (خلیفه ) په ځمکه کې د الله سبحانه وتعالی د رحمت سیوری دی. (الدار قطنی)

د خلافت په دولت کې به روغتیا ته د پاملرنې د پالیسۍ پر اساس د ټولو لابراتورونو، علمي او تحقیقاتي ازمایښتونو دروازه د ګټې په موخه نه بلکې د امت د روغتیایي ستونزو د حل په موخه د ټولو ښاریانو پر مخ پرانیستې وي. هو همدا د دولت مکلفیت دی چې د خلکو، عامه اړتیاوو او په ځانګړې ډول د روغتیایي چارو تنظیم ترسره کړي. «**د ټولنې ټول وګړي حق لري چې په ژوند کې د ټولو روغتیایي چارو د تنظیم په موخه علمي لابراتوارونه رامنځته کړي او همدارنګه دا د دولت دنده هم ده چې ورته لابراتوارونه جوړ کړي.**» [د حزب التحریر د دولت (خلافت) اساسي قانون یوه برخه]

په خصوصي سکتور کې د کرونا ویوس د ازمایښتي کېټونو د توانایۍ ابتکار او په ارزانه بیه د ضد عفوني موادو تولید... او داسې نور دا په ګوته کوي چې د بنګلدېش خلک د ډېر لوړ استعداد او وړتیا درلودونکي دي او یوازې د نبوت پر منهج خلافت کولی شي چې له دغو تجروبو څخه په صحیح ډول ګټه واخلي او ټول بشریت ته د یو هر اړخیز روغتیایي سېستم د شتون څخه د الله سبحانه وتعالی د رحمت په توګه ډاډ ورکړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾**

**ژباړه:** *که د سیمو خلکو ایمان راوړی وی او د پرهېز کاری لاره یې غوره کړې وی، نو موږ به پر هغوی د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانیستې وی. خو هغوی د درواغو نسبت وکړ ، ځکه موږ هغوی د هغې ناوړه ګټې په حساب کې ونیول چې دوی راغونډوله. [اعراف:۹۶ ]*

**د حزب‌التحریر- ولایه بنګلادیش مطبوعاتی فتر**

**هجري قمري نېټه:** ۱۴۴۱هـ.ق کال د رجب ۲۸مه

**میلادي نېټه: ۲۰۲۰**م کال د مارچ ۲۳ مه

**د صدور شمېره: ۱۴/۱۴۴۱**